**د خلافت د تاسیس پر مټ اشغال شوی کشمیر ازادولی شئ**
**د پاکستان د سیاسي او نظامي مشرتابه د چوپتیا له امله، هند په اشغال شوي کشمیر کې خپلو وحشتونو ته دوام ورکوي**



د ۲۰۱۸م د مې پر ۶ مه هندي ځواکونو په اشغال شوي کشمیر کې د پوهنتون د یوه استاد په ګډون نږدې ۱۰ مسلمانان شهیدان کړل. هندي ځواکونو د سرینګر په سوېل د شاپیان د ولسوالۍ د بادیګم په کلي کې هغه کور کلابند کړ، چې پنځه مجاهدین پکې وو. هغوی ټول له هندي ښکېلاکګرو ځواکونو سره د ډزو په تبادله کې شهیدان شول. د اشغال شوي کشمیر په سوېلي برخو کې د مجاهدینو د شهادت له امله د خلکو له لورې لاریونونه پیل شول. هندي ځواکونو د خلکو د تیتولو په موخه ډزې وکړې، چې په پایله کې یې پنځه نور مسلمانان هم شهیدان کړل.

د هند دغه روان وحشتونه له دې امله په اشغال شوي کشمیر کې دوام لري، چې د پاکستان سیاسي او نظامي مشرتابه په اشغال شوي کشمیر کې پر سرحدونو او د کنترول پر لیکه د بریدونو پر وړاندې د امریکایي تګلاره «ډډه کول» څاري. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلِيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾**
[التوبه: ۱۲۳]

*ژباړه: ای مومنانو! له هغو کفارو سره جګړه وکړئ، چې تاسي ته نږدې وي، تر څو دوی (کفار) په سختۍ کې ښکېل شي او پوه شئ چې الله سبحانه و تعالی له پرهېزګارانو سره دی.*

ایا د پاکستان سیاسي او نظامي مشرتابه نه دي هڅول شوي، چې د شانګهای همکاری سازمان په لارښوونه د ۲۰۱۸م په سپټمبر کې له هند سره یو ځای په روسیه کې په نظامي تمریناتو کې د برخې اخیستلو وړاندیز قبول کړي او یا دا چې هند هڅوي، ترڅو په اشغال شوي کشمیر کې د مسلمانانو وژنې ته نور هم دوام ورکړي او د کشمیر په دره کې لا زیات وحشتونه ترسره کړي؟ ایا هند نه دی هڅول شوی، چې خپلو تېرې کوونکو تګلارو ته د مسلمانانو پر وړاندې له کومې وېرې پرته دوام ورکړي؟ په داسې حال کې چې د

پاکستان سیاسي او نظامي مشرتابه په دوامداره ډول هند ته بلنه ورکوي، چې د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز سره یوځای شي.

دا څرګنده ده، چې د پاکستان سیاسي او نظامي مشرتابه د هند پر وړاندې د امریکا د «مخنیوي» تګلاره تعقیبوي، تر څو په سیمه کې د امریکا د بهرنۍ تګلارې موخې خوندي کړي او دغه چارواکي هڅه کوي چې له روسیې او چین سره د اړیکو په پراخولو سره خپل خیانتونه پټ کړي. په داډ سره ویلای شو چې پاکستان په سیمه کې له تېرو ۷۰ کالونو راهیسې د امریکا د ګټو د ساتلو په چوپړ کې بوخت دی، خو په دې ترڅ کې امریکا له پاکستان سره د اشغال شوي کشمیر د ازادېدو په برخه کې هیڅ نه دي کړي، نو ښکاره ده چې روسیه او چین به هم هیڅکله له موږ سره په دې تړاو کوم څه ونه کړي دوی ټول کفار دي او د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي.

**اې د پاکستان د پوځ مخلصو چارواکو!** ملګري ملتونه، نړیواله ټولنه، امریکا، روسیه، چین او نور قدرتونه به زموږ د ګټو د ساتلو او د اشغال شوي کشمیر د ازادولو په موخه له موږ سره هیڅ مرسته ونه کړي. موږ د نبوت پر تګلاره د خلافت له تاسیسولو پرته بل کوم بدیل نه لرو، چې د مسلمانانو خاورې، پوځونه او سرچینې سره یوځای او مسلمانان پیاوړي کړي. په پای کې به د راشده خلافت تر مشرۍ لاندې د جهاد بیرغ د اشغال شوي کشمیر د ازادۍ لپاره لوړ او په دنیا او آخرت کې به برې در په برخه شي. الله سبحانه وتعالی امر کوي:

**﴿فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَٱعْتَدُوا۟ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا ٱعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾**
[البقره: ۱۹۴]
*ژباړه: هر هغه څوک چې پر تاسې برید کوي، تاسې هم پر هغوی ورته برید وکړئ.*

**حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د ۱۴۳۹ هق، د شعبان ۲۲ مه**

**د ۲۰۱۸ م، د مې ۸ مه**

**ګڼه: PR۱۸۰۳۲**